# بِاسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ، مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ، مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أَوْ عَيْنِ حَاسِدٍ، اللهُ يَشْفِيكَ بِاسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ». «د الله په نوم دې دموم، له هر هغه شي نه چې تا ځوروي، د هر نفس او د حسد کوونکي له بد ځخه، الله دې شفا درکړي، د الله په نوم دې دموم

له ابو سعيد رضي الله عنه ځخه روايت دی چې: جبرائيل عليه السلام نبي  ته راغی او ويې ويل: اې محمده! ناروغ يې؟ هغه وفرمايل: هو، ويې ويل: «بِاسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ، مِنْ كُلِّ شَيْءٍ يُؤْذِيكَ، مِنْ شَرِّ كُلِّ نَفْسٍ أَوْ عَيْنِ حَاسِدٍ، اللهُ يَشْفِيكَ بِاسْمِ اللهِ أَرْقِيكَ». «د الله په نوم دې دموم، له هر هغه شي نه چې تا ځوروي، د هر نفس او د حسد کوونکي له بد ځخه، الله دې شفا درکړي، د الله په نوم دې دموم».

[صحيح دی] [مسلم روايت کړی دی]

جبرائيل عليه السلام نبي  ته راغی او ترې يې وپوښتل: اې محمده! ته ناروغ شوی يې؟ هغه وفرمايل: هو. نو جبرائيل نبي  پدې ويناوو سره دم کړ: «باسم الله» د الله په نوم، په هغه مرسته غوښتونکي، «أرقيك» تا دموم او تاته پناه غواړم، «من كل شيء يؤذيك» د هر هغه شي له شر ځخه چې تا ځوروي، هغه که کوچنی وي او يا لوی، «من شر كل نفس» خبيثة، د هر خبيث نفس له شر ځخه، «أو عين حاسد» او يا د حسد کوونکي له نظر ځخه، چې تاته بد در ورسوي، «يشفيك» الله تعالى دې شفا درکړي، او له ټولو ناروغيو دې تا وساتي، «باسم الله أرقيك» د الله په نوم دې دموم، د مبالغې لپاره يې الفاظ تکرار کړل، پېل او پای يې په همدې الفاظو وکړه، او پدې کې دېته اشاره ده چې له هغه سپېځلي ذات پرته بل ځوک نفع رسوونکی نشته.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5650